# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د شاتوموندونکې مرغۍ غچ / The Honeyguide’s revenge

Zulu folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid (ps)

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# د شاتوموندونکې مرغۍ غچ

# The Honeyguide’s revenge



Zulu folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid
4
پښتو ps / English en



دا د نګيد په نامه د شاتو د ځالو لاربښود مرغۍ او د جميل په نوم د يوه لالچي ځوان کيسه ده. يوه ورځ جميل د ښکار لپاره بهر تللی و چې د نګيد مرغۍ غږ يې واورېده. هغه خوشحاله شو چې د همدې مرغۍ پر مټ به د شاتو ځاله پيدا کړي، ودرېده او په ځير سره غوږ شو، تر څو يې چې د خپل سر د پاسه د ونې په څانګو کې مرغۍ وليدله. "چيټيک-چيټيک-چيټيک،" وړې مرغۍ سندرې ويلې، يوې ونې ته يې ټوپ کړ، بيا بلې ونې ته والوتله "چټيک، چيټيک، چيټيک،". او همدارنګه نګيد به هم وخت په وخت درېدله، ترڅو ډاډمنه شي چې جميل يې تعقيبوي.

. . .

This is the story of Ngede, the Honeyguide, and a greedy young man named Gingile. One day while Gingile was out hunting he heard the call of Ngede. Gingile's mouth began to water at the thought of honey. He stopped and listened carefully, searching until he saw the bird in the branches above his head. "Chitik-chitik-chitik," the little bird rattled, as he flew to the next tree, and the next. "Chitik, chitik, chitik," he called, stopping from time to time to be sure that Gingile followed.



نیم ساعت وروسته، دوی د اینځر یوې لویې ونې ته
ورسېدل. نګید په خوشالۍ سره د ونو په څانګو کې الوتنې
کولې. جمیل ته یې د سر په اشاره وویل چې راځه د شاتو د
ځالې په پیدا کولو کې به مرسته درسره وکړم، خو ولې دا
ځنډېږې؟ جمیل د شاتوګبین نه و لیدلی، خو پرنګید یې باور
درلود چې سمه لارښوونه به ورته کوي.

. . .

After half an hour, they reached a huge wild fig tree. Ngede hopped about madly among the branches. He then settled on one branch and cocked his head at Gingile as if to say, “Here it is! Come now! What is taking you so long?” Gingile couldn’t see any bees from under the tree, but he trusted Ngede.



نو جمیل خپله د ښکار نیزه د ونې لاندې کېښوده، یو څو دانې
وچ لرګي يې راټول کړل او اور يې بل کړ. کله چې اور ښه
ولګېده، نو د اور په منځ کې يې یوه اوږده وچه لښته کېښوده.
دا لښته د لوګي جوړولو ځانګړې لښته وه. هغه ونې ته په
ختلو پیل وکړ، سګرټ يې په خوله کې نیولی و.

. . .

So Gingile put down his hunting spear under the tree, gathered some dry twigs and made a small fire. When the fire was burning well, he put a long dry stick into the heart of the fire. This wood was especially known to make lots of smoke while it burned. He began climbing, holding the cool end of the smoking stick in his teeth.



له همدې امله کله چې ماشومان دا کیسه اوري د جمیل او نګید پېښه یې ذهن ته راځي او د شاتو را ټولولو وروسته یوه برخه لاربښوود مرغۍ ته ورکوي.

. . .

And so, when the children of Gingile hear the story of Ngede they have respect for the little bird. Whenever they harvest honey, they make sure to leave the biggest part of the comb for Honeyguide!





ډېر ژر یې د ګڼو مچیو غږونه واورېدل. مچۍ د ونې له تنې څخه راوتلې او دننه کېدلې. کله چې جمیل د مچیو ځالې یا ګبین ته ورسید، نو هغه د سګرټو لوګی ګبین ته وردننه کړ. مچۍ ډېره غوسه او بې رحمه ښکارېدې. په بېړه راووتلې او وتښتېدلې، ځکه چې د دوی لوګی نه خوښېده – خو دوی په تګ تګ کې جمیل ښه سم وچیچه.

. . .

Soon he could hear the loud buzzing of the busy bees. They were coming in and out of a hollow in the tree trunk – their hive. When Gingile reached the hive he pushed the smoking end of the stick into the hollow. The bees came rushing out, angry and mean. They flew away because they didn't like the smoke – but not before they had given Gingile some painful stings!



کله چې مچۍ له ځالې بهر شوې، جمیل د مچیو ځالې ته لاس دننه کړ. هغه د شاتو یو غټ ګبین راوویست چې ښه ډېر شات پکې و. جمیل په ډېر احتیاط سره هغه په کڅوړه کې واچوه، کڅوړه یې اوږې ته کړه، او له ونې څخه په ښکته کېدو شو.

. . .

When the bees were out, Gingile pushed his hands into the nest. He took out handfuls of the heavy comb, dripping with rich honey and full of fat, white grubs. He put the comb carefully in the pouch he carried on his shoulder, and started to climb down the tree.





مخکې له دې چې پړانګ په جمیل حمله وکړي هغه له ونې څخه په چټکۍ ښکته شو. د ونې له څانګو یې څمکې ته راټوپ کړ، او په منډه شو. جمیل نېکمرغه ه و څکه چې پړانګ ستړی و او دومره وس پکښې نه و چې د جمیل پسې منډې وکړي، او هغه ونیسي، له دې سره جمیل خوندي پاته شو او عبرت یې واخیست. نګید هم خوشحاله وه چې له جمیل یې خپل غچ واخیسته.

. . .

Before Leopard could take a swipe at Gingile, he rushed down the tree. In his hurry he missed a branch, and landed with a heavy thud on the ground twisting his ankle. He hobbled off as fast as he could. Luckily for him, Leopard was still too sleepy to chase him. Ngede, the Honeyguide, had his revenge. And Gingile learned his lesson.



جمیل ونې ته پورته شو، حیران شو چې ولې د تل په شان د مچیو غږ نه اوري. هغه له ځانه سره فکر وکړ"شاید د ونې تل کې وي،" یوې بلې ښاخ ته پورته شو. خو دا ځل یې د ګبین پر ځای یې د پړانګ مخ ته کتل! پړانګ ډیر په غوسه و، چې د هغې خوب یې په بې رحمۍ سره خراب کړی و. هغې خپلې سترګې تنګې کړې، خپله خوله یې خلاصه کړه، چې خپل خورا لوی او تیره غاښونه ښکاره کړي.

. . .

Gingile climbed, wondering why he didn't hear the usual buzzing. "Perhaps the hive is deep in the tree," he thought to himself. He pulled himself up another branch. But instead of the hive, he was staring into the face of a leopard! Leopard was very angry at having her sleep so rudely interrupted. She narrowed her eyes, opened her mouth to reveal her very large and very sharp teeth.





نګیډ مرغی د جمیل دا چاره په ځیر ځیر سره لیدله.. هغه په دې تمه وه، چې جمیل به د شاتو د ګبین یوه ټوټه نګیډ ته د شاتو د ځالې د ښوونې، د نذرانې په توګه پریږدي. نګید له یوې ښاخ څخه بلې ښاخ ته والوته، ځمکې ته راټیټه شوه، بیرته پورته شوه. بالاخره جمیل د ونې څخه ښکته شو. نګید جمیل ته نږدې په یوه ډبره کښیناسته، او د هغه د انعام د ترلاسه کولو انتظار یې کوه.

. . .

Ngede eagerly watched everything that Gingile was doing. He was waiting for him to leave a fat piece of honeycomb as a thank-you offering to the Honeyguide. Ngede flittered from branch to branch, closer and closer to the ground. Finally Gingile reached the bottom of the tree. Ngede perched on a rock near the boy and waited for his reward.



خو جميل اور مړ کړ، خپله نېزه يې واخيسته، او د کور په لور روان شو. نګيد په غوسه غږ وکړ، "وک ټورررررر وک!" جميل ودرېده، کوچنۍ مرغۍ ته يې وکتل او په لوړ غږ يې وخندل، مرغۍ ته يې وويل "ته شات غواړې؟ په رښتيا يې غواړې، زما ملګريه؟ هو!" "ټول کار خو ما وکړ، د اور بلولو لښتې مې راټولې کړې. نو زه بيا ولې له دا خوندور شات له تا سره شريک کړم؟" دا خبره يې وکړه او روان شو. نګيد ډېره په قهر شوه! د جميل څخه د بدل اخيستلو لپاره ورسره هيڅ لاره نه وه! خو هغه به يوه ورځ خپل غچ هرومرو اخلي.

. . .

But, Gingile put out the fire, picked up his spear and started walking home, ignoring the bird. Ngede called out angrily, "VIC-torr! VIC-torrr!" Gingile stopped, stared at the little bird and laughed aloud. "You want some honey, do you, my friend? Ha! But I did all the work, and got all the stings. Why should I share any of this lovely honey with you?" Then he walked off. Ngede was furious! This was no way to treat him! But he would get his revenge.





څو اوونۍ وروسته يوه ورځ جميل بيا د نګيد د شاتوموندونکې مرغۍ غږ واورېد. د هغه خوندور شات فکر ته راغلل، او په ډېره ليوالتيا يې يو ځل بيا مرغۍ تعقيب کړه. دا ځل نګيد جميل د ځنګل يوې څنډې ته يوړ. نګيډ د اغزيو د چترۍ لاندې ودرېده. "آه،" جميل فکر وکړ. "چه د شاتو ګبين بايد په دې ونه کې وي." هغه په ډېرې چټکۍ سره اور بل کړ، او ونې ته په ختلو شو، په خوله کې يې د لوګيو سګرټ و. نګيد ناسته وه، او يوازې نندارە يې کوله.

. . .

One day several weeks later Gingile again heard the honey call of Ngede. He remembered the delicious honey, and eagerly followed the bird once again. After leading Gingile along the edge of the forest, Ngede stopped to rest in a great umbrella thorn. "Ahh," thought Gingile. "The hive must be in this tree." He quickly made his small fire and began to climb, the smoking branch in his teeth. Ngede sat and watched.